# د پکتا وینا ـــــ ماضي په حال او مستقبل کښې

Prof. Dr. Fazal ur Rahim Marwat*
Dr. Muheeb Wazir**

**<u>ABSTRACT</u>**:

*In this article an attempt has been made to evaluate the new Pashto Book of Mr. Bashir Ahmad Khan Matta, former diplomat, writer and politician from academic perspective. How the writer of the ۲۰th century trying to grasp the past glory, problems and prospects of the Pashtuns and trying to present it in the ۲۱ century in reveled style. His style of prose-poetry compels the readers to read the "book for the Pashtun/Afghan nation" carefully to grasp the philosophical ebb and flow of the author's thoughts. It also pinpointed the geo-strategic enigma of the Pashtuns as individual and as nation, as ruler and ruled and how thing tangled in the identity crisis at the cross road of civilization is which pushed them in the dark labyrinth of darkness. The book is in Pashto, the language of the Pashtuns and the author tried his best to present the case of tthe Pashtuns, by the Pashtuns and for the Pashtuns.*

" د پکتا وینا ،،(۱) د ښاغلي بشيراحمد خان متہ تازه کتاب دے چې د زوړ فکر او زړې موضوع په نوي اسلوب او انداز د پیش کش په لړ کښې ورته یو غیر معمولي کتاب وئیلے شو ۔ زوړ فکر او زړه موضوع ورته په دې وجه

---

* Vice-Chancellor, Bacha Khan University Charsdda

** Assistant Professor Pakhtun Khawa Study Center Bacha Khan University Charsdda

ووئیل شول چې که مونږ وګورو ، نو د پیر روښان نه تر باچاخان پورې د پښتنو څو نسلونو سره هم دغه فکر او موضوع تاویږي راتاویږي ، خو د اسلوب نوښت او د انداز بیان ادا ورته یو داسې ښکلا او رنګیني بخښلې ده چې د ویښ او بیدار مغزو خاوندانو په ذهنونو کښې به محفوظ وي۔ "د پکتا وینا" په نوم دا کتاب په کال دوه زره شپاړسم کښې د ارټ پواینټ صدف پلازه محله جنګي پېښور له خوا چاپ شوے دے چې په یو سل ووه نوي مخونو خپور دے۔ دا کتاب د مصنف د "وړومبي ټکي" نه پرته هیڅ قسمه سریزه نه لري او نه کومه ابواب بندي لري۔ د کتاب صنفي تعین ببخي ګران دے ، خو یوه قیصه بیانوي د یو بوډا په ژبه چې په یوه حجره کښې ناست دے او د کلي ځوانان او نور بوډاګان ورته غوږ غوږ دي۔ البته دومره پورې وئیلے شو چې دا قیصه د پښتنو هغه داستاني/قیصه ایز کلتور نمایندګي کوي چې قیصه ویونکي به په حجرو کښې زړې قیصې په یوه یا بیا په څو شپو کښې وئیلې۔ "د پکتا وینا" کښې دوه مرکزي کردارونه دي یو هغه ژوندے او لیدل شوے بوډا دے چې دا پکتا وینا نورو ته رسوي او بل په خپله پکتا دے ، چې نه خو په دې قیصه کښې ښکاره شوے دے او نه هغو اورېدونکیو کښې چا لیدلے کتلے دے ، څوک چې دا قیصه اوري۔ پکتا څوک دے؟ چرته دے ؟ او بوډا ته یې دا خپله وینا څنګه او چرته ور رسولې ده؟ ـ دا قسمه سوالونه ځوابول د لوستونکیو په سر پرته ذمه واري ده۔

په کتاب د نور څه وئیلو نه وړاندې باید د بشیراحمد خان متهه په حقله هم څه ولیکلے شي۔ که څه هم دوي د ډېرې مطالعې ، تجربې او د عمر یوه لویه حصه یې تېره کړې ده خو پښتو ادب کښې د دوي نوم ببخي نوے دے۔ تېر کال یې د شاعرۍ کتاب د "سپلاني ستوري" (۲) په نوم چاپ شو او دوه زره شپاړسم کښې یې دا ذکر شوے کتاب مخې ته راغے۔ بشیر احمد خان په کال نولس سوه دوه څلوېښتم (۱۹۴۲) کښې په متهه مغل خېل کلي چارسده کښې زېږېدلے دے۔ ماشوم توب نه تر زلمیتوب پورې دورانیه یې د پېښور پوهنتون

په کېمپس کښې تېره شوې ده. د کالجېټ سکول نه تر اسلامیه کالج او بیا تر پېښور پوهنتون نه د پولیټیکل ساینس او ایل ایل بي ډګریانو تر لاسه کولو پورې ــ په دغه دورانیه کښې که یو خوا د هغوي تعلیمي کېریر شاندار پاتې شوے دے ، نو بل خوا یې په غېرنصابي سرګرمیو کښې هم د اسلامیه کالج پېښور د خېبر یونین تر صدارت پورې یې سفر کړے دے.

په کال ۱۹۷۲ کښې یې بهرني چارو وزارت (Ministry of Foreign Affairs) کښې د مقابلې د امتحان ترمخه نوکري ترلاسه کړه او د ذولفقارعلي بهټو په حکومتي دوره کښې چې د افغانستان په اړه کومه ریاستي پالېسي جوړېده او په قام پرستو راهنمایانو پسې هله ګله شورو شوه ، نو ښاغلي بشیراحمد خان متېه د دغه حکومتي پالېسیو سره د اختلاف په بنسټ په احتجاجي توګه د خپلې دندې (نوکرۍ) نه استعفا وکړه او د قامي تحریک د بېلابېلو پړاوونو ملګرے پاتې شو چې تر ننه یې خپلې دغه ملګرتیا ته دوام بخښلے دے.(۳)

بشیر احمدخان متېه د پښتو ، اردو او انګرېزۍ د ادب نه پرته یوناني ، اروپایي او اسیایي فلسفه په ژور نظر لوستې ده او د خپلې دغې مطالعې نه یې الهام اخستے دے چې نن "د پکتا وېنا" په ترڅ کښې زمونږ په وړاندې پرته ده.

"د پکتا وېنا،، د ټولن پوهنې (Sociology) او بشر پوهنې (Anthropology) په رڼا کښې ټول انساني تاریخ بیانوي. د روح او وجود د ترون نه واخله تر ادم پورې ، د وجود او خاورې د ترون نه واخله تر ورومبۍ انساني ټولنې پورې ، د ادم او علم او هنر د تړاؤ نه تر نوو نوو ساینسي انکشافاتو پورې ، د ورومبي ریاست د قیام نه تر قامي ریاستونو پورې ، د پښتنو د شاندار ماضي نه تر اوسني زوال پورې او د پښتنو اوسنۍ ستونزو نه واخله تر یو سوکاله راتلونکي (مستقبل) پورې ټول داستان په خپله لمنه کښې راغونډ کړے دے چې د یو بوډا له خلې یې په یوه شپه کښې بیان کړے دے. دا ټول فلسفیانه ، عمراني ، کلتوري ، انساني او قامي مطالب یې په داسې انداز راټول کړي دي ، لکه د

مصنف په وړاندې چې د نړۍ ټول ستر تخلیقونه/ تالیفونه پراته وي ، لکه د پیرروښان "خیرالبیان" (۴) سره د اسلوب او د نثر رنګینۍ، د کیخسرو کیکاوس "قابوس نامه" (۵) او د ستر خوشحال خان خټک "دستارنامه(۶)" سره د موضوعاتو د بهیر او رواني ، د نیکولو میکیاولي "The Prince" (De Principatibus/Il Principe) (۷) په شان د ماضي تجرباتو د پاره نوې او علمي انداز خپلول ، د نیټشې "Thus Spoke Zarathestra" (Nietzsche) (۸) او د خلیل جبران "The Prophet" (۹) سره د سوال او ځواب انداز یا د قیصې د تېرولو او بیانولو په ترڅ کښې یو شان والې لري - او دا ټولې حوالې د نړیوال ادب عالیه سترې نمونې دي - د دې کتابونو په فهرست کښې "د پکتا وېنا" اچولو نه زمونږ مراد هر ګز دا نه دے چې ګني دا کتاب به هم دومره مقبول او خوښ کړے شي ، خو د دغو ټولو کتابونو سره یې څه نه څه اشتراکات ضرور شته دي -

"د پکتا وېنا" کښې مرکزي کردار بوډا (ځوک چې د پکتا پیغام کلي په کلي ګرځوي) د هغه اساطیري قیصې د کردار (افلاطون په خپل کتاب جمهوریه (The Republic) کښې "Myth of cave" په نوم بیان کړې ده) سره هم ورته والے لري ځوک چې د خپل قام/ټولنې/اولس سره په یو غار کښې ساتلے شوے دے او شاته یې د اور لمبې بلې کړې شوې دي او د اور د لمبو په ترڅ کښې د دوي تت تت سیورې ښکاري ، بیا څه موده پس دغو کښې یو کس د غار نه په وتو کښې کامیاب شي او بهر دنیا وګوري ، د دنیا رنګونه ، ښایستونه ، منظرونه او کاروبارونه وګوري ، مستۍ ، خوشۍ او سوکالۍ ووینې ، نو زړه یې وغواړي چې ولې نه زه واپس هغه غار ته لاړ شم او خپلو ټولو ملګریو/قام ته هم دغه ښایستونه او د سوکاله ژوند رنګونه ور وښایم او دې ته یې تیار کړم چې دوي غار نه د وتلو هلې ځلې وکړي او دغه خوندوره دنیا یې په قسمت وګرځي - خو چې واپس خپلو ملګریو/قام/اولس ته ورشي او د بهر جهان خوندورې قیصې ورته شروع کړي ، نو په دغو قیصو یې ځوک هم یقین نه کوي

او اخر قيصه دې ته راشي چې هغه خپل ملګري/قام/اولس يې ولګي او دغه کس مړ کړي۔ دارنګې دا بوډا هم چې د پکتا پيغام ورته هر څنګه ترلاسه شوے دے او کلي په کلي ګرځي چې خپل قام ته دغه پيغام ور ورسوي ، البته دا خبره شته چې د دغه بوډا خبرو ته د کلي خلق غوږ ږدي۔

"د پکتا وينا،، مرکزي کردار بوډا (څوک چې د پکتا پيغام کلي په کلي ګرځوي) د خليل جبران د The Prophet په شان خپل اولس ته قيصه تېروي او اول يې د روح او وجود په معنا خبروي ، بيا يې د وجود او خاورې په تعلق پوهوي او بيا ورته د ټولنې او ټولنيز ژوند په اړه معلومات ورکوي ، بيا د رياست او قامي رياست په ترڅ کښې ورته تاريخ کېږدي او بيا يې د خپل پښتني تاريخ د لوړو ژورو نه خبر ساتي او چې دا ټول کار ترسره کړي ، نو سحر په تيره غوني کښې د بل کلي په لور وتلے وي چې د کلي خلق ورپسې وګرځي خو پيدا يې نه کړي ، بس فرق دومره دے چې د خليل جبران The Prophet دولس کاله پس په ښکاره ورځ د قام نه د اوبو په جهاز کښې روان شي۔(۱۰) او "د پکتا وينا،، بوډا په تيره کښې د بل کلي په لور روان شي۔ د خليل جبران The Prophet په څه پسې لاړ شي۔ ولې دا بوډا جوته پته لګي چې د پکتا پيغام په وړلو پسې چرته بل کلي ته روان شي۔

خو دلته ډېر اهم سوال دا دے چې پخپله پکتا څوک دے؟ او دغه بوډا څوک دے چا ته پکتا خپل دغه عظيم پيغام (وينا) حواله کړے دے او کوم پيغام (وينا) چې پکتا دغه بوډا ته حواله کړے دے د هغې بنيادي مهمتيا څه ده؟ ؟ پکتا لکه چې د نوم نه پته لګي د پکهت ، پکتيا او پکتيکا سره تړاؤ لري او د پکهت ، پخت/پښت او پښتون د تاريخ نه مونږ ټول ښه خبر يو ۔په دغه تناظر کښې مونږ دا وئيلے شو چې پکتا هغه وړومبے انسان دے چې پکهت/ /پښت/پښتون ترې نه را پېژندل شوے دے۔ په بله معنا کښې مونږ داسې هم وئيلے شو چې پکتا د پښتنو يو فرضي نيکه/بابا هم کېدے شي ، خو پکتا

ځوک دے ؟ او د کوم ځاے نه راغلے دے ؟ پخپله ''پکتا'' يې داسې ځواب کوي:

''... نه يم راغلے دې هېواد ته يا د خاته نه ، يا د پرېواته نه ، يا د شمال نه ، يا د جنوب نه . چې زېږېدلے يم زه په دې خاوره له پلرونو نه چې نه يې پېژندله هيڅ بله خاوره په حېث د خپلې خاورې .'' (۱۱)

البته په دغه قيصه کښې د مرکزي کردار ''بوډا'' تعين کول يا پېژندګلو کول به ګرانه ځکه وي چې که څه هم د پښتنو په تاريخ کښې نور هم په څو وارې داسې شخصيتونه مخې ته راغلي دي چې پښتنو ته يې لويې او عظيمې وېناوې راوړې دي چې په دې ټولو کښې باچاخان يوازينے په ډېر منظم انداز تش د وېناوو او د عمل د لارې د پښتنو په ښارونو ، کلو بانډو ، حجرو او جوماتونو ګرځېدلے دے ، خو په پوره وثوق سره سړے پرې د باچاخان دعوا ځکه نشي کولے چې تخليقي قيصه کښې د فرضي کردار تخليق کولو امکانات هم زيات وي . خو بوډا د شکل او صورت ، خوي او بوي او ملنګۍ او سادګۍ په ترڅ کښې باچاخان ته نزدې ضرور دے .

اوس راځو اخري سوال په لورې چې د پېغام (وېنا) مهمتيا يې څومره پورې ده؟ ــــ دا وېنا لکه څنګه چې وړاندې وئيلي شوي دي چې د وجود د تاريخ نه واخله تر ادم او بيا د ادم نه واخله تر دې دم ، ټول انساني تاريخ يې د عمرانياتو او بشرياتو او فلسفو د لارې ښودلے دے ــــ او تر ټولو وروستو بيا د پښتنو تاريخ او د پښتنو موجوده صورتحال او ستونزو او بيا د هغې د حل لارو چارو ته وقف شوے دے ــ نو د دې نه خو دا اندازه ښکاره ده چې د پکتا دا وېنا تش د پښتنو د پاره ده او اصل غرض يې هم د پښتنو د تاريخي روايت ښکاره کول ، پښتنو ته خپل شاندار ماضي وريادول او بيا د خپل ځپلي شوي اوسني صورتحال نه خبرول او د يو سوکاله او روښانه مستقبل ورته په ګوته

ګول دي ، خو د وجود ، روح ، ادم ، ټولنه ، رياست ، قانون ، کلتور او داسې نورو تذکره يې تش په دې غرض په پام کښې نيولې ده چې پښتون اولس ته قيصه د بنياد نه راشروع کړي او د بنياد نه يې د خپل وجود او زمکې په تعلق او تړون خبر کړي او سر يې پرې خلاص کړي او هم دغه د دې کتاب بنسټيز ارزښت هم دے۔

## د پښتنو بنسټيزې ستونزې د "پکتا" په نظر کښې:

د خپل پيغام اخري برخه کښې "پکتا" نيکه بوډا ته د پښتنو د زوال بېلابېل سببونه ښايي ، بېلابېلې ستونزې ورښايي چې د پښتنو د زوال سوب ګرځېدلې دي۔ لاندې مونږ غواړو چې وار په وار د کتاب هغه نکتې په ګوته کړو چې مصنف يې د پښتنو بنسټيزې ستونزې ګڼي او د هغې تذکره په خپل دغه کتاب کښې کوي:

۱. تر ټولو د مخه پښتنو ته چې کومه ستونزه ورپېښه ده ـــ د "پکتا" د وينا ترمخه:

"دے دا چې نه لرلو تاسو يو کتاب خپل په حېث د يوې ځانګړې ټولنې د آدم۔" (۱۲)

اوس دا کتل دي چې د کتاب نه د مصنف څه مراد دے؟ ـ زمونږ په وړاندې يو خو اسماني کتابونه دي او څه د نورو مذهبونو کتابونه هم دي۔ ايا د مصنف مراد هم د دغسې يو کتاب نه دے؟؟ ـ اسماني او غير اسماني دواړه ، لکه راماين ، وېدونه ، ګيتا ، د کنفيوشس خطبات ، تورات ، زبور ، انجيل او قران پاک چې يا د يو قام يا بيا د ټول انسانيت د پاره دي چې د دوي مذهبي ، کلتوري ، تهذيبي او ژبني تاريخ په رڼا کښې يې د اولسونو د پاره يوه لاره ګودره ټاکلې ده۔ خو د بده مرغه چې د پښتنو سره خپل داسې يو کتاب نشته چې د دوي تاريخ او کلتور او د ژبې د پرمختګ انداز يې پکښې خوندي وي ـ داسې کتاب واقعي په پښتنو کښې ليکلے شوے نه دے او که نه د حالاتو د چپو د لاسه ورک کړے شوے يا سوزولے شوے دے ، ځکه چې تاريخ کښې

داسې څو ځله شوي دي چې د پښتنو په وطن چا هم یلغار کړے دے ، نو د دوي د کتابونو ذخیرې یې هم وربربادې کړې دي۔ دلته د کتاب نه مراد هم زمونږ په خیال د یو داسې کلتور ، رسم و رواج ، ځانګړي قوانینو نه دے چې د هرې راتلونکیو چپو څخه د پښتون قام راهنمایي وکړي۔ د یو ځانګړي کتاب د نه لرلو په ترڅ کښې ''پکتا'' پخپله وایي:

''...خو یو سېل د لاروو بې سره ، ورک له خپله ځانه ، خپله جهانه ، سر په خوشي بیابان ، چې وهي منډه په ځلق پسې د هر رپېدونکي سُراب۔'' (۱۳)

او دا حال هم د هغه قام/قبیلې/اولس وي چې خپل تاریخ نه لري ، خپل کلتور نه لري ، خپل شناخت نه لري ، خپل مرام نه لري۔

۲. دویمه ستونزه چې ''پکتا،، نیکه یې بیانوي ، د پکتا د اولاد په قبیلوي شناخت د مئینتوب ده ۔ د پکتا/پښتون په نوم چا اکتفا ونه کړه او په قبیلو پورې یې ځانونه وتړل ، دارنګې د قامي جوړښت نه لرې شول :

''...سبب وو ، اې زما زویه ، دا چې څه موده وروستو زما نه ، پېل کړل زما پښت لرل د مینې د ځان او نومونو سره د هغوي ، چې زېږېدلي وو زما نه ، ډېر د هغه مینې نه ، ډېر د هغه مینې نه چې لرله یې زما سره او د نوم سره زما ۔'' (۱۴)

د قامونو د جوړښت په ارتقایي سفر چې سوچ کوو ، نو دا نکته پکښې ډېره اهمه لیدل کېږي ۔ هغه اولسونه یا هغه ټولنې چې د قبیلوي سوچ او قبیلوي پېژندګلو نه راوتلي دي ، نو د قامي جوړښت پوړۍ یې ډېرې په تندۍ سره سر کړې دي ۔ د پښتنو نه لاتراوسه یو قام نه دے ساز شوے او سبب یې هم دغه دے چې د قامي ګټو وټو ، شناخت ، یووالي په ځاے د قبیلوي ګټو وټو او

شناخت ته زيات پامته داره پاتې شوي دي. د سرمايه دارۍ د تعريف لاندې چې د قام او قاميت تعريف ته ځير کېږو ، نو د ډېر جذباتيت باوجود هم دې منلو ته غاړه کښېښنولو باندې مجبوره کېږو چې پښتنو لا تراوسه يو قامي حېثيت نه دے موندلے او د دې بنستيز سوب پکت نيکه په قبيلوي پېژندګلو تفاخر ښايي :

"خو چې راغله قبيله او ودرېده قبيله ، په نظر کښې زما د زامنو ، مخکښې زما نه ، نو کور د پکتا ګډ شو په وېش په ضد د خپل لوے ځان او را ولګېدل په سنګين بدن کښې د پکتا چودونه او درزونه.، (۱۵)

البته دا خبره بحث طلب ضرور ده چې ايا اولس/ټولنه/قبيلې/هجوم که يو ځل قامي تشکيل ومومي ، نو په رښتيا دوي واپس قبيلوي نظام ته راتلے شي. زمونږ په خيال داسې ممکنه نه ده او د نړۍ معلوم تاريخ کښې داسې مثالونه نه ترلاسه کېږي.

۳. خو د فکر وړ خبره يې دا کړې ده چې د پېړيو پېړيو راسې د پښتنو ترمنځه موجود قبيلوي نظام ته دوام د پښتونخوا په خاوره خورو ورو غرونو ورکړے دے :

"...خو بيا هم دا غرونه دي ولاړ ديوالونه چې ببلوي تر ډېره حده ، زما په هېواد دننه ، يوه برخه زما د پښت د بلې برخې نه زما د پښت." (۱۲)

چرته چې پکتا نيکه د غرونو بې شمېره فايدې بيان کړې دي ، هلته يې داسې نقصانات هم په نظر کښې ساتلي دي چې د فکر وړ ضرور دي. اوس قيصه دا نه ده چې دا غرونه د پښتنو په خاوره نقصاني دي ، خو په دغو غرونو کښې

لاړې نه ويستل مونږ په خپله ځان ته نقصاني ګرځولي دي او هم دغه خبره پکتا نيکه هم په پام کښې نيولې ده:

"اې زما زويه ! لاژم دي د پاره د پښت د پکتا چې جوړې کړي ارتې رواني لارې په زرګونو ، په سرونو او څنډو د غرونو او غونډو د پکتا د هېواد ..." (۱۷)

۴. دارنګې بکتا نيکه د پښتونخوا جغرافيايي حېثيت هم د پښتنو د بدمرغۍ يو سوب بولي چې دوي يې تل د حمله کونکيو په وړاندې ساتلي دي ـ د هندوستان شنه او پيداواري خاورې ته چې د هر حمله کوونکي لاره هم زمونږ خاوره پاتې شوې ده ـ (۱۸)

۵. د سمندر شنو اوبو ته لاره نه لرل هم د پښتنې خاورې او پښتون اولس غټه بدمرغي ګڼي ـ (۱۹) او دې کښې شک هم نشته چې هغه هېوادونه/قامونه په مخ د زمکې د ترقۍ تر اخري حدونو پورې رسېدلي دي چې ټول کال يې د سمندر لاره خلاصه وي او د سوداګرۍ کار يې روان وي ـ خو بيا داسې ملکونه هم شته چې سمندر ته يې لاره نشته ، ولې ځانونه يې په پرمختللې نړۍ کښې ور ګډ کړي دي ، لکه د سوېټزرلېنډ مثال به واخلو ـ

۶. بله اهمه خبره چې پکتا نيکه په پام کښې نيولې ده ، هغه دا ده چې پښتانه هند ته تللي دي، هلته يې حکمرانۍ کړې دي ، سلطنتونه يې قايم کړي دي ، خو خپله خاوره ته يې پام نه دے کړے ـ (۲۰) که هر څو په پردۍ خاوره کاميابۍ او کامرانۍ ترلاسه کړې شي ، خو چې په خپله خاوره د انسان واک او اختيار خپل نه وي ، په خپله خاوره د انسان کور ړنګ پنګ پروت وي نو د پردي وطن ابادۍ او کامرانۍ ته پکتا نيکه "سترې شنډې ، منډې بې ځايه ، خرخشې ډډې" (۲۱) وايي ـ

داسې نورې څو وړې وړې مسئلې او ستونزې هم په ګوته کوي چې د پښتنو د بدحالي سوب ګرځېدلي دي ـ دغو ستونزو کښې څه خو داسې دي چې هغه د

قدرت له لوریه دي ، لکه د خاورې جغرافیایي حېثیت یا د سمندر شنو اوبو ته لاره نه موندل ـ خو زیاتره پکښې داسې دي چې یا خو مونږ ځان ته پخپله جوړې کړې دي او که جوړې شوې دي ، نو د حل کولو مو یې هڅو هڅه نه ده کړې ــ که څه هم د قامي مشرانو په فهم دا ستونزې هوارېدې شي ـ
خو که د پښتنو د ستونزو خبره او د "پکتا وېنا" د تذکرې خبره شي ، نو د ښاغلي افراسیاب خټک د دې وېنا سره سړے په اتفاق کولو مجبوره کېږي:

"... زما په نزد دا د پښتنو د ملي روحیې ، د پېړیو په لویه لاړ کښې د هغوي د مزلونو ، غورزو پرزو ، لوړو ژورو او د هغوي د نفسیاتي او روحاني بڼې (شکل) په حقله تراوسه لیکل شوے تر ټولو مهم کتاب دے ـ دا زمونږ د ورکو کتابونو عطر دے یا د هغو کتابونو روح دے چې د نا مساعده حالاتو په وجه ونه لیکلے شو ـ دا د خپلو دنګو غرونو ، یاغي سیندونو ، سرکشو سیلیو ، پېچلي پېچومو او مستو ورشوګانو کښې د پښتني ژوند د کاروان د مزل انځور دے ـ " (۲۲)

## اسلوبیاتي کتنه:

د یوې فنپارې د اسلوب لوستنه د هغې د صنفي تعین نه ممکن کېدے شي ، خو لکه څنګه چې مونږ وړاندې وئیلي دي چې "د پکتا وېنا" یو داسې تخلیقي کتاب دے چې صنفي تعین یې په مروجه نثري او شعري صنفونو کښې مشکل دے ، نو ځکه یې د اسلوبیاتي لوستنه هم یوه ګرانه مرحله ضرور ده ـ
ترڅو پورې چې د اسلوب تعلق دے ، نو اسلوب د مصنف د شخصیت د مطالعې دویم نوم دے ـ (۲۳) او د شخصیت مطالعه چې انسان کوي ، نو د هغوي د فکر ، د هغوي د ډکشن او د هغوي د خبرو د انداز نه یې کوي ـ د فکر وړانګې د مصنف په لیک کښې په کوم رفتار مخې ته راځي او په کوم ترتیب مخې ته راځي ، دا د تخلیقي فنپارې د اسلوب د لوستنې یو جز دے ـ

اصل کښې د فنکار وجداني مواد ، هغه که د يو الهامي کشف ، د يو غيبي اواز ، د يو غېر شعوري عمل ، د يو حسياتي تاثر ، د کوم جذباتي ټکور ، د کوم فکري تحريک يا د کومې خارجي پېښې په صورت کښې ولې نه وي ، خو چې څنګه څنګه په تخئيلي تجربه کښې بدلېږي ، نو د يوې سترې فنپارې محرک جوړېږي۔ مونږ ”د پکتا وېنا“ په ترڅ کښې دا خبره ډېر په واضحه ټکيو کښې کولے شو چې د مصنف وجداني قوت کله د حسياتي تاثر ، کله د جذباتي ټکور ، د کوم فکري تحريک ، کله د خارجي او تاريخي پېښو په ترڅ کښې او په ځينو ځايونو کښې د الهامي کشف په ترڅ کښې د يوې سترې فنپارې شکل اخستے دے:

”...پوهه شه چې يوازې يوه لار خلاصه ده ده ته په يو داسې جهان کښې چې وروي غتې ستونزې او بار کوي درانه پېتي د ده په سر په هر ګام۔ او دغه لار ده لار د لويې دانايي ، چې لار ده پريکړې او لوے جدوجهد ۔ هم دغه لار خلاصه ده ده ته په يو داسې جهان کښې چې لري ډېر ډېر څيزونه ناخوښه او ګران او ډک له خطره د ده د پاره! او دغه لار ده لنډه د ده زړه او فطرت ته ، او يوازې نيم ګام بېرته د ده نه“ (۲۴)

دا د بيان هغه انداز دے چې د مصنف وجدان مواد يې د يو داسې صورت کښې مخې ته راوړي دي چې هم د الهامي کشف او يا د يو غيبي اواز ګمان ورباندې کېدے شي او دغه سامان مونږ ته ترلاسه کوي چې د مصنف اسلوب په يو مجسمه بڼه کښې زمونږ په وړاندې راولي۔
”د پکتا وېنا“ د فکر ترتيب چې ته چې لوستونکے ګوري ، نو د لامحاله په دې وئيلو مجبور شي چې دا موضوع د مصنف د تخيل په دايره کښې د ډېرې زمانې راسې تاوېدلې راتاوېدلې ده۔ چې د روح او جود نه يې شورو کړې ده او

د پښتنو په وجود یې ختمه کړې ده ـ دا ترتیب د مصنف فکري ټینګښت په ګوته کوي ـ په دغه اړه مصنف پخپله وایي:

" نو شوه ګډه ، په دغه ډول ، تومنه د دې کتاب زما په سرشت کښې له ډېر پخوا نه ـ خو نه راکوزېدو دا کتاب یوه ډېره موده ، غېږې ته زما د ادراک ، په بشپړه او پوره څرګنده توګه ، او نه راتلل ما له په لاس هغه ټکي چې جوګه وو د ده د ارزښت او درنښت ـ " (۲۵)

نو دغه ځنډ یا انتظار د اسلوب د جوړښت مرحله ده ـ د مصنف سره چې د فکر کومې وړانګې موجودې وې ، هغه په ساده او عامیانه او د بیان په مستعملو اندازونو کښې نه شوه کېدے ، نو ځکه ورته انتظار وشو او په پایله کښې یې ځکه داسې ځانګړے د بیان انداز وموندو ـ
د تخیلي وجداني تجربې د اظهار د پاره یو مخصوص تکنیک هم ضروري وي ـ ځنګه چې د تخیلي وجدان تجربې منفردې وي ، دارنګې د هغې د اظهار تکنیک هم خپله یوه ځانګړتیا لري ـ مونږ چې د کوم تخیلي وجدان د تجربې خبره کوو ، نو دا مونږ نه ګڼو چې دا د ډېر علم او عرفان خاوندانو ته ترلاسه کېږي ، بلکې کله کله دا یو ډېر عام وګړي ته کېدے شي ـ کله په خوب کښې ، کله په ویښه ، کله کله په خبرو خبرو کښې داسې خبره د یو عان انسان د خلې نه هم ووځي چې مونږ ورته د الهام تر حده توجه ورکوو ـ کله کله د نابېره د یوې ګرانې فیصلې کولو په وخت د انسان ذهن ته داسې فیصله راشي چې په راتلونکي نسلونو یې ډېرې مثبتې اغېزې مخې ته راشي ، کله کله د یوې ډېرې ګرانې مسلې د حل لارې په ډېره اسانه د انسان ذهن ته راشي ـ کله کله د یوې ډېرې زړې زمانې خبره ناڅاپه د انسان په یادو کښې راشي ـ هادي حسن په خپل کتاب کښې د پال والیري (Poul Valery) د تخیلي تجربې د الهام او تکنیک په اړه دا وینا رانقل کړې ده :

"هغه نظمونه چې د فن د کمال نمونې دي او په وجود کښې راتلل يې يوه معجزه ، يو غېبي اواز او د عادت په خلاف يا فوق البشر يو کارنامه ښکاري ، دا ټول د سخت محنت ، ، ذهانت او د ويښو مازغو او د ارادې د قوت مجسم شاهکارونه وي." (۲۶)

"د پکتا وېنا" هم ځکه يو داسې شاهکار نمونه په لاس راغلې ده چې په شا يې د کلونو کلونو مطالعه ، محنت ، ذهانت او د ارادې يو قوي او مضبوط قوت پروت دے. هم دغې مضبوط قوت د فنپارې ډکشن جوړ کړے دے ، د جملو جوړښت يې ساز کړے دے او ترتيب او توازن له يې يو ښېزلے او ګنډلے صورت ورکړے دے.

د يوې تخليقي فنپارې ژبه هم تخليقي وي. څنګه چې هره نوې فنپاره ځانله يو نوے هيئت راوړي ، دارنګې هغه ځان له يوه نوې ژبه هم راوړي او د ژبې د استعمال يو نوے طريقه کار هم راوړي. "د پکتا وېنا" ته چې مونږ ګورو نو د نوي هيئت سره سره يې د ژبې د استعمال يوه نوې طريقه راوړې ده چې د ډېرو د پاره نااشنا ځکه وي چې زمونږ سترګې او غوږونه د داسې قسمه انداز سره بلد نه دي:

"پوه شه ، اې زما زويه ، چې لږ دي غوږونه جوګه د اورېدو د دې خبرو چې کووم يې زه تا ته په اړه د دې حقيقتونو چې پراته دي لرې د ادراک نه د زمکني آدم ، سره د دې چې دا حقيقتونه اوسي هر وخت چاپېره د هغه د ژوند نه په مخ د زمکې." (۲۷)

ځومره اسانه او ساده خبره يې څومره په بدل او نوي صورت کښې راوړې ده چې د دې ساده خبرې مفهوم وسيع کړے دے او فکر انګېز کړے دے.

د اسلوب ځانګړتيا کښې بنيادي هم دغه خوبي وي چې هغه وړو وړو موضوعاتو نه غټې غټې موضوعات جوړوي او د غټو غټو نه واړه واړه ، د

خاصو نه عام او د عامو نه خاص جوړوي د اسانو نه ګران او د ګرانو نه اسان ـ "د پکتا وېنا" کښې داسې ډېر مثالونه شته چې عام مفاهیم یې په خاص کښې او خاص یې په عام کښې بدل کړي دي ـ ګران یې اسان کړي دي او اسان یې فکر انګېز کړي دي ـ د نور وضاحت د پاره باید د پال والېري (Poul Valery) خبره وکړو ، کومه چې هغه د شاعرۍ او نثر د ژبې په ترځ کښې کړې ده چې د نثر ژبه لکه تګ/تلل وي او د شاعرۍ ژبه لکه نڅا/ګډېدل وي ـ د اندامونو خوزېدل په دواړو صورتونو کښې موجود دے ، ولې اولذکر ساده او عادي صورت دے او موخرالذکر کښې زړه راښکون دے ـ (۲۸) هم دغه خبره د عام نثر او تخلیقي نثر د ژبې په ترځ کښې هم کېدے شي او "د پکتا وېنا" د ژبې کارولو عمل ته چې مونږ ځیر شو نو داسې راته ښکاري لکه چې د ژبې نه یې د نڅا/ګډېدو ښکار اخستے وي او په دغه وجه زړه راښکون هم لري ـ

## نتیجه ګري:

د بشیراحمد خان متېه کتاب "د پکتا وېنا" د ژورې مطالعې ، تجربې او د پښتون/افغان قام د عروج او زوال یو په زړه پورې داستان دے ، کوم چې په زرګونه کاله محیط دے ـ بوډا سړے چې د ماضي Symbol دے، هغه چې کومه قیصه کوي او بیا هغه د بل بوډا سړي وېنا او سوال او ځواب اولسونو ته رسوي ، پخپله د ماضي یو تسلسل ښکاري ـ ماضي بعید (زوړ تېر شوے وخت) ماضي قریب (نزدې تېر شوي وخت) ته راوړي ـ دارنګې یې د پښتون/افغان تاریخ د مکان/خلا Space او زمان/وخت Time په تلله کښې د تللو هڅه کړې ده ـ د مادي وجود او روح قیصه هم زړه ده او نوې هم ، انسان او آدم زوړ هم دے او نوے هم ، وخت زوړ هم دے او نوے هم ، وخت اوږد هم دے او لنډ هم ، خو انساني خواهشات همېشه راسې د جبلتونو ، جغرافیو او سماجونو په زنځیرونو کښې تړلي شوي دي او دغه د زوړ او نوي قیصه او د زنځیرونو قیصه په دې کتاب کښې مونږ ته ځاے په ځاے لیده شي ـ

خو سوال دا دے چې ماضي یو خوب دے او دا خوب کله ښکلے ښکاري او کله بیا د هیبت نه ډک او یروونکے ، ځکه چې ماضي (په تېره د پښتون/افغان) کښې که عروج شته ، نو زوال پکښې هم شته ـ خو د شلمې پېړۍ یو داسې انسان چې په ختمه پښتون/افغان دے او دغه د عروج او زوال داستان ته ګوري او دا مهال په پنجره کښې بند قام ، نااتفاقه قام ته ګوري ، نو سوچ کوي او د خپل تخیل په زور یو داسې بوډا کردار تخلیق کوي یا د متهه صبب د پکتا په انتظار دے د چا په زور چې خپل دغه قام د تیرو د خلې نه راوباسي او د روښانه سباوون سره یې اشنا کړي ، د اتفاق او اتحاد ماحول ساز کړي او د ادم په زمکه ځان ته یو لوړ مقام وګټي او خپله پېژندګلو Identity وغواړي او ځان د قامونو سره سیال کړي۔ دا بوډا څوک دے؟ یا څوک کېدے شي ، دا هر هغه څوک کېدے شي چې د پښتون/افغان په خاوره د اولسونو د یو بل سره د تړلو او بیولو کار او زیار ته یې هم په ماضي کښې ملا تړلې ده او یا په راتلونکي کښې یو داسې مشر راپاڅي او دا عظیمه د خدایي خدمتګارۍ کارنامه ترسره کړي۔

## حوالې

(۱) متېه ، بشير احمد خان ، د پکتا وېنا ، پېښور ، ارټ پوائنټ ، ۲۰۱۲

(۲) متېه ، بشير احمد خان ، سپلاني ستوري ، پېښور ، کياني پرنټرز محله جنګي ، ۲۰۱۵

(۳) د بشير احمد خان متېه سره ځانګړې مرکه ، په موبايل فون ، نېټه د جولايي ۲۲م کال ۲۰۱۶

(۴) بايزيد انصاري ، خيرالبيان ، ترتيب تدوين و حواشي: حافظ عبدالقدوس قاسمي ، بلوچستان ، پشتو ادبي ټولنه چمن ، س ن

(۵) امير عنصرالمعالى کيکاوس بن سکندر بن قابوس ، قابوس نامه ، تهران ، شرکة انتشراتة علمى و فرهنگى ، ۱۳۹۰ هـ

(۶) خټک ، خوشحال خان ، دستارنامه ، تحقيق سمونه او حاشيې: پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم خټک ، پېښور ، يونيورسټي بک ايجنسي ، مئ ۲۰۰۵

(۷) Niccolo Machiavelli, ***De Principatibus/Il Principe***, Florence Italy, Antonio Blado d`Asola, ۱۵۳۲.

(۸) Friedrich Nietzche, ***Thus Spake Zaratustra*** (Dovers Thrift Edition), Translated by Thomas Common, Dover Publications Inc. Mineola New York, ۱۹۹۹.

(۹) Khalil Gibran, ***The Prophet***, eBook edition, Paul Coughlin, ۲۰۰۵,

(۱۰) ***The Prophet***, p.۳۳

(۱۱) د پکتا وېنا ، مخ: ۱۳۴

(۱۲) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۴۳

(۱۳) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۴۴

(۱۴) هم دغه کتاب ، مخ: ۵۳ - ۱۵۲

(۱۵) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۵۴

(۱۶) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۵۶

(۱۷) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۲۱

(۱۸) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۲۴

(۱۹) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۲۵
(۲۰) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۷۲
(۲۱) هم دغه کتاب ، مخ: ۱۷۳
(۲۲) افراسیاب خټک ، د پښتني شناخت د کشتۍ لنګر ، ناچاپه ، مملوکه: پروفېسر ډاکټر فضل الرحیم مروت
(۲۳) Encyclopedia Britanica, online
(۲۴) د پکتا وېنا ، مخ: ۱۲۸
(۲۵) هم دغه کتاب ، مخ: ۲
(۲۶) محمد هادي حسېن ، شاعري اور تخیل ، لاهور ، مجلس ترقي ادب ، ۱۹۲۲، ص ، ۱۴۱
(۲۷) د پکتا وېنا ، مخ: ۲۳